163 مدنی پھول (پشتو)

# 163 مدني ګلونه




شیخ طریقت، امیر اهلسنّت، بانیٔ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

دِيني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندينۍ دعا اولولئ اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ کوم څه چه لولئ نو هغه به مو ياد پاتي کيږي:

**اَللّٰھُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه دَ عِلم او دَ حِکمت دروازې پرانيزي او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخِر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالِب د
غمِ مدينه
بقيع او بخښنې



۷ رجب المرجب ۱۴۳۶ھ


د رِسالې نوم: 163 مدني ګلونه

اول ځل: رَجَبُ المُرَجَّب ۱۴۳۶ھ، مئ 2015ء تعداد:

ناشِر: مکتبةُ المدينه، عالمی مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه کراچۍ.



مَدَنی عرض: بل چا ته د دې رسالې دَ چاپ کولو اجازت نشته.


### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼې کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# 163 مدني ګلونه

از: شیخِ طریقت امیرِ اَہلسنّت، بانئ دعوتِ اسلامی

**حضرتِ علّامه، مَوْلانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِری، رَضَوی**

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

## دَ ترجمي پیشکش:

مجلس تراجم (دعوتِ اسلامي) د دي رسالي د اُردو ژبي نه په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمَه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې تَرجَمه کښې څه غلطي یا کمې زیاتي اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.


مجلس تراجم دعوتِ اسلامي

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

Email: translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# 163 مدني ګلونه

شيطان که هرڅو ناراستي درولي خو دارِساله د اخيره پورې پوره اولولئ اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ ډير سنّتونه به ياد کړې شئ.

## د دروشريف فضيلت

د سرکارِمدينه، راحتِ قلب و سينه صَلَّىاللهُتَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دې: اے خلقو! بيشکه د قيامت په ورځ به د هغې د د هشتونو (يعني يرې) او د حساب کتاب نه زر خلاصې موندونکې هغه کس وي چاچه په تاسوکښ په مابانديې په دُنياکښ په کثرت سره درود وئيلي وي. (الفردوس بماثور الخطاب ج 5 ص277 حديث 8175)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په مختلف عنوانونو مدني ګلونه قبول کړئ، پيش کړې شوي هر هر مدني ګل په سُنَّت د رَسولِ مَقبول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مه محمول کوئ، په دې کښ د سنّتونو نه علاوه د بزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِين نه منقول مدني ګلونه هم شامل دي. دامسئله ياده ساتئ چه ترڅو په يقين سره معلوم نه وي تر هغې پورې يو عمل ته هم سنّتِ رسول نه شي وئيلې.

د دې رسالې ټول مدني ګلونه د هرمسلمان د پاره قابلِ قبول دي او د دې مطابق عمل کولو کښ د جنّت ګټلو اُمّيد دې. د مُبَلِّغِينُو او د مُبَلِّغاتُو په خدمت کښ عرض دې چه د خپلو سنّتو نه ډک بيانونو په

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هير کړل هغه دَجنّت لاره هيره کړه. (طبرانی)

آخِره کښې د موقعې په مناسبت سره په دې رساله کښې ورکړې شوې د يو نه يو عنوان مدني ګلونه بيانوئ. د هر عنوان نه مخکښې او ورروستو ليکلې شوې کربښې هم لولئ.

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د بيان په آخره کښې د سنتو فضيلت او يوڅو سنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ”چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.“ (ابنِ عساکرج9ص343)

سينے تيری سنت کا مدينہ بنے آقا
جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډې د ځان مې کړه خوږه آقا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## کرم يارسول الله د ډِيارلس حروفو په نسبت

## د اوبو څښلو13 مدني ګلونه

**دوه فرامَينِ مصطفٰى** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

(1) د اوبښ په شان په يوه ساه کښې مه څښئ، بلکه دوه يا درې پيرو (کښې ئې) څښئ او د څښلو نه مخکښې بِسْمِ الله اولولئ او د څښلو نه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځِ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

وروستو اَلْحَمْدُ لِلّٰه لولئ. (ترمذی ج3ص352حدیث1892) (2) نبِيِّ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په لوښي كښې د ساه اغِستو نه او په هغې كښې د پوكلو نه منع فرمائيلي دي. (ابوداؤد ج3 ص474 حدیث 3728) مُفَسِّرِ شَهير حَكيمُ الأُمَّت حضرت مفتي احمد يارخان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الْحَنَّان د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: په لوښي كښې ساه اغِستل د څناورو كار دې، بله داچه ساه كله زهريله هم وي ځكه د ساه په اغِستو كښې د لوښي نه خُله جدا كوئ (يعني ساه اغِستو كښې ګلاس د خُلې نه جداكړئ) ګرم پئ [شوده] يا چائے په پوكو مه سړوئ، بلكه لږ صبر كوئ، چه لږ سوړ شي نو بيا ئې اوڅښئ. (مِراٰۃ ج6ص77) البتّه چه درودِ پاک وغيره اولولئ نو د شِفاپه نيَّت اوبه وغيره دم كولو كښې پاک نشته.(3) د څښلو نه مخكښې بِسْمِ الله اولولئ. (4) واړه واړه ګوټونه كوئ، په غټوګوټونو كښې د څښلو سره د ځيګر بيماري پيداكيږي. (5) اوبه په درې ساګانو كښې څښئ. (6) په ناسته او په ښي لاس اوبه څښئ (7)كه په لوټه وغيره هم اودس كړې وي نو د هغې پاتې اوبه څښل د 70 مرضونو نه شِفا ده ځكه چه دا د آبِ زم زم شريف سره مشابهت لري، د دې دوو (يعني د اودس نه پاتې شوې اوبه او د آبِ زم زم شريف) نه علاوه نورې اوبه په ولاړه ولاړه څښل مكروه دي. (ماخوذ: ازفتاوٰی رَضَوِیَّه ج4 ص 575ج21 ص669) دا دوه (قِسمه) اوبه مخ په قبله په ولاړه ولاړه څښئ. (8) د څښلو نه مخكښې اوګورئ چه د څښلو په څيز كښې څه نقصان وركونكې شې وغيره خو نشته. (إتحافُ السَّادة لِلزبيدي ج5ص594) (9)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي۔ (مجمع الزوائد)

د خښلو نه پس اَلْحَمْدُلِلّٰه اولولئ. (10)حُجَّةُ الاسلام حضرت سيِّدنا امام محمّد بن محمّد بن محمّد غزالي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْوَالِي فرمائي: بِسْمِ الله دِ اولولي اوخښل دِ شروع کړي د ورومبئ ساه په آخره کښې دِ اَلْحَمْدُلِلّٰه د دويمي ساه نه پس دِ اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن او د دريمي ساه په آخره کښې د اَلْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم اولولي. (اِحياءالعلوم ج2 ص8) (11) په ګِلاس کښې پاتې شوې د مسلمان صفا سُتره جُوټه اوبه چه د استعمال قابِلې وي فُضُول توئ کول نه دي پکار. (12) منقول دي: سُؤْرُ الْمُؤْمِنِ شِفَاءٌ يعني د مسلمان په جوټه کښې شِفا ده. (اَلْفَتاویٰ الفِقهِيَّةُ الکبرٰی لابنِ حجر الهيتمی ج4 ص 117، کشف الخفأ ج1 ص384) (13) د خښلو نه لږساعت پس چه خالي ګلاس اوګورئ نو د هغې په ويخ کښې به ديوالونو نه يوځو خاڅکي اوبه راجمع شوې وي هغه هم اوڅښئ.

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره دمکتبةالمدينه دوه کتابونه (1) د **312** پاڼړو کتاب "**بهارِشريعت**" حصّه 16 او(2) د **120** صفحو کتاب "**سنّتيں اور آداب**"هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دي.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لا ړ شئ    رحمتونه ګټلو له قافله کښې لا ړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لا ړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافله کښې لا ړشئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د بيان په آخره کښې د سنتّو فضيلت او يو څو سنّتونه او آدابو بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت، مصطفٰی جانِ رحمت، شمع بزمِ هدايت، نوشه بزمِ جنت صَلَّى اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ”چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.“ (ابنِ عساکر ج9ص343)

سینے تیری سنت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا
سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډي د ځان مې کړه خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ”د مديني د لار مسافر“ د 15 حروفو په نِسبت د کرزيدو 15 سنّتونه او ادبونه

(1) پاره15 سوره بني اسرائِيل آيت 37 کښې د ربّ العِباد عَزَّوَجَلَّ ارشاد دې:

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

وَلَا تَمۡشِ فِي الۡاَرۡضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنۡ تَخۡرِقَ الۡاَرۡضَ وَلَنۡ تَبۡلُغَ الۡجِبَالَ طُوۡلًا ﴿۳۷﴾

**مفهوم ترجمه كنزالايمان:** او په زمكه كښې غره [يعني په ناز سره] مه ګرځه، بيشكه هيڅ كله به زمكه اونه شي خيرلي او هيڅ كله به په اوچت والي كښې غرونو ته اونه رسې.

(2) د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مكتبة المدينه چاپ كړي شوي په 1197 صفحو باندې مشتمل كتاب "**بهارِشريعت**" ج 3ص435 كښې فرمانِ مُصطفي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: يو سړي دوه ځادرې اچولې په ناز [ غره] روان وو او په تكبر كښې وو، هغه په زمكه كښې خخ كړې شو، هغه به ترقيامته پورې هم داسې خخيږي. (صحیح مسلم ص1156 حدیث2088)

(3) سرورِكائِنات شَهَنشاهِ موجودات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ځيني وختونو كښې په روانه كښې د يو صحابي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ لاس په خپل لاس مبارک كښې اونيولو. (المعجم الکبیرج7ص277حدیث 7132)

(4)رسولِ اكرم، نورِمجسَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه روان وو نو مخې طرف ته به لږ شان ټِيټ شوې تلَلو، لكه د لوړې نه چه راكوزيږي. (الشّمائل المحمّدیة للترمذی ص 87 رقم 118)

(5) په غاړه كښې د سرو زرو يا د هر قسم اوسپنې زنځيراچولې، خلقو ته د ښودلو د پاره خلاص كړې ګريوان په ناز هيڅ كله مه ګرځئ ځكه چه دا د كم عقلو،كبرجنو او فاسِقانو تګ دې. په غاړه كښې د سرو

www.dawateislami.net

زرو چين يا بريسليټ (Bracelet) اچول د نارينه د پاره حرام او د نورو دهاتونو (يعني د هر قسم اوسپنې) هم ناجائِز دې.

(6) که څه وجه نه وي نو د لارې په غاړه غاړه په درميانه رفتارسره ځئ، نه دومره تيز چه خلق ستاسو په تماشه شي چه داچرته په منډه منډه روان دې! اونه دومره په قلاره چه خلق تاسو بيماراوګڼړي. د اَمرَد (يعني د ښکلي بې ګيرې هلک) لاس دِ نه نيسي، د شهوت سره د هر يو اسلامي ورور لاس نيول يا مصافحه کول (لاس مِلاو کول) ياغاړه ورکول حرام او جهنّم ته بوتلونکې کار دې.

(7) په لاره تللو کښې پريشان نظري (يعني بې حاجته اخوا ديخوا کتل) سنّت نه دي، نظرښکته ساتئ او په وقار [عزّت] سره ځئ. حضرت سيِّدنا حَسَّان بن ابي سِنان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الْحَنَّان د اختر دمانځه د پاره لاړو، چه بيرته ئې کور ته تشريف راوړو نو ښځې (بي بي صاحبه) ورته اووئيل: نن دِ څومره ښځې اوليدلې؟ هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خاموش وو، چه کله هغې ډير ضد اوکړو نو او ئې فرمائيل:"دکور نه د وتلو نه واخله واپس ستا خوا ته د راتلو پورې ما (د خپلو ښپو) ګوتو ته کتل." (کتابُ الورع مع موسُوعہ اِمام اِبنِ ابي الدّنيا ج1 ص205) سُبحٰنَ اللہ عَزَّوَجَلَّ الله والا خلق چه په لاره روان وي نو بې ضرورته او خاص طور د ګڼړي په وخت کښې هډو اخوا ديخوا ګوري نه، چه هسې نه چرې په هغه چا مې نظر پريوځي چا ته چه شرعاً د کتلو اِجازت نه وي! دا د هغه بزرګ تقویٰ وه ، مسٔله دا ده که چرې

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

په کومه زنانه باندې بې اختیاره نظر پریوځي اوفوراً ئې ترې واړوي نوګنهګار نه دې. (8) د چا د کور بالکوني [ګیلرۍ] یا کهړکۍ طرف ته بې ضرورته کتل مناسِب نه دي. (9) په تلَلو یا په پوړو ختلو کوزیدلو کښې د پیزار اواز پیدا کیدل نه دي پکار، زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د پیزار "**درب**"خوښ نه وو. (10) په لاره کښې که دوه زنانه ولاړې وي یا روانې وې نو د هغوئ په مینځ کښې مه تیریږئ ځکه چه په حدیثِ پاک کښې د دې منع راغلې ده. (ابوداؤد ج 4ص470حدیث 5273)

(11) په روانه ، په ولاړه بلکه په ناسته هم د خلقو په مخکښې تُوکل، پوزه سونړکول، په پوزه کښې ګوته وهل، غوږونه ګرول، د بدن خِیري په ګوتو راولاړول، د پردې ځائ ګرول وغیره د ادب خلاف دي. (12) ځینې خلق چه په لار روان وي نو د هغوئ عادت وي چه کوم شې هم مخې له ورځي هغه په لتو وهي، دا قطعاً غیراخلاقي طریقه ده، په دې کښې د ښپو د زخمي کیدو هم خطره وي، او اخبارونه یا د لیک والاډبې، پیکټې او د منزل واټر خالي بوتلې وغیره په لتو وهل بې ادبي هم ده.

(13) پیاده ګرځیدو کښې چه کوم قوانین (قانونونه) د شریعت خلاف نه وي د هغې پابندي کوئ مثلاً د ګاډو د تګ راتګ په وخت کښې په روډ تیریدو د پاره که وي نو زیبرا کراسنګ یا د سړک د پاسه تیرشوې پل استعمالوئ.

www.dawateislami.net

(14)کوم طرف نه چه ګاډي راروان وي نو هغه طرف ته ګورئ او روډ باندې تيريږئ ،که چرې تاسو د روډ په مينځ کښې يئ اوګاډي راروان وي نو د منډه وهلو په ځائ د موقعې په مناسبت سره هم په هغه ځائ اودريږئ چه په دې کښې زيات حفاظت دې، او د ريل ګاډي د تيريدلو په وختونو کښې په پټړو تيريدل خپل مرګ ته دعوت ورکول دي، ريل ګاډې ډير لرې ګنړونکي لره د تيريدو په وخت کښې په تادئ يا په بې خيالئ کښې په څه تار وغيره کښې د ښپې د نښتلو په صورت کښې د غورځيدو او د پاسه د ريل ګاډي د تيريدو خطره په نظر کښې ساتل پکار دي، او ځيني ځائيونه خو داسې وي چه هلته په پټړئ تيريدل د قانون خِلاف وي، خصوصاً په سټيشنو کښې، په دې قانونو عمل کوئ.

(15) په عبادت د قُوَّت حاصلولو په نيَّت هره ورځ کم ازکم پاؤکم يوه ګهنټه [يعنې درې پاوه وخت] د ذکر و درود وئيلو سره پيدل ګرځئ، اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ صحت به مو ښه وي.

[د ورزش په نيّت] د ګرځيدو غوره طريقه داده چه اول15 منټه تيز تيز قدمونه، بيا 15منټه درميانه، او په آخِره کښې بيا 15منټه تيز تيز قدمونه اخلئ، په دې طريقه ګرځيدو سره به ټول بدن ته ورزش مِلاويږي، اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ نظامِ اِنهِضام (يعنې هاضمه) به مو صحيح وي، ګيس، قبض، د وجود پيړ والي [پينړ والي]، د زړه د مرضونو او نورو ډيرو بيمارو نه به هم اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ حفاظت کيږي.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

په زړګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبةالمدينه دوه کتابونه(1) د 312 پاڼو کتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (2) د 120 صفحو کتاب "سنّتيں اور آداب"هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دې.

لوٹنے رحمتيں قافلے ميں چلو سيکھنے سنّتيں قافلے ميں چلو
ہوں گی حل مشکليں قافلے ميں چلو ختم ہوں شامتيں قافلے ميں چلو

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لاړ شئ رحمتونه ګټلو له قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافله کښې لاړشئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د بيان په آخره کښې د سنتّو فضيلت او يوڅو سنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت، مصطفٰی جانِ رحمت ،شمع بزمِ هدايت ، نوشه بزمِ جنت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج9ص343)

سينہ تيری سنت کا مدينہ بنے آقا
جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره درود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډې د ځان مې کړه خوږه آقا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ”شانِ اِمامِ اعظم ابوحنيفه“ د 19 حروفو په نِسبت د تيل لګولو او ګمنز کولو 19 مدني ګلونه

(1) حضرت سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: د الله عَزَّوَجَلَّ محبوب، دانائے غُيُوب، مُنَزَّهٌ عَنِ العُيُوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په مبارک سر کښې اکثر تيل لګول او ګيره مبارکه به ئې ګمنز کوله او اکثر به ئې په مبارک سر کپړه (يعنې سربند) اينبودلو تر دې چه هغه کپړه به په تيلو کښې غوړه شوله. (الشَّمائِلُ المُحمَّدِيه لِلتِّرمِذِي ص40 حديث32) معلومه شوه چه د سربند استِعمال سنَّت دې، اسلامي وروڼو له پکار دي چه کله هم په سرتيل اولګوي، نو يوه وړه شان کپړه دِ په سر تړي. داسې به اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ ټوپۍ او عمامه شريف د تيلو د غوړيدو نه محفوظه وي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د سګِ مدينه عفي عنه د ډيرو کلونو نه د ثواب په نيّت د سربند د استعمال معمول دې. (2) فرمان مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ”که د چا ويښته وي نو هغه دِ دَ هغې احترام اوکړي.“ (ابوداؤد ج 4 ص103 حديث 4163) يعنې هغه دِ وينځي، تيل دِ پرې لګوي او ګمنز کوي دِ ئې. (اَشِعّةُ اللَّمعات ج3 ص617) د سر او د ګيرې د ويښتو چه د چا په صابن وغيره سره د وينځلو معمول نه وي دَ هغوئي په ويښتو

www.dawateislami.net

کښې اکثر بدبوئي پيدا کيږي، ځکه که په هغه بدبوئي نه هُم لګي نو په نورو خو لګي. دخُلې، ويښتو، بدن او کپړو وغيره نه که بدبوئ راځي نو په داسې حالت کښې جمات ته داخليدل حرام دي ځکه چه د دې نه خلقو او فرِښتو ته تکليف رسي. او که بدبوئي وي خو چه پته وي لکه د ترِخ بدبوئي نو په دې کښې باک نشته. (3)حضرت سيِّدنا نافع رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دې، چه حضرت سَيِّدُنا ابنِ عمر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا به په ورځ کښې دوه ځله تيل لګول. (مصنّف اِبنِ ابي شيبه ج6ص117) په ويښتو کښې په کثرت سره د تيلو استعمال خصوصًا د اهلِ علم حضراتو د پاره فائِده مند دې، د دې سره په سر کښې خشکي نه کيږي، دماغ ورسره غوړ او حافِظه ورسره قوي وي. (4) **فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ''چه کله په تاسو کښې څوک تيل لګوي نو د ورُوزو نه دِ شروع کوي، د دې سره د سر درد لرې کيږي.'' (الجامِع الصّغير ص28حديث369) (5) په کَنزُالعُمّال کښې دي: خوږ خوږ آقا مَکِّي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه کله تيل استعمالول نو مخکښې به ئې په خپل ګڅ تلي کښې تيل اچول، بيا به ئې مخکښې په دواړو وروزو باندې، بيا په دواړو سترګو او بيا به ئې په سر مبارک لګول. (كَنزُالعُمّال ج7ص64رقم18295) (6) د''طَبَراني'' په روايت کښې دي: سرکارِ نامدار د مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه کله په ږيره مبارکه تيل لګول نو د عَنفَقَه (دلاندِنئ شونډې او د زنې د مينځ ويښتو) نه به ئې شروع فرمائيله. (اَلمُعجَمُ الاَوسَط ج5ص366حديث7629) (7) ږِيره ګمنز کول سنّت دي. (اشِعَّةُ اللّمعات ج3ص616)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

(8) د بسمِ الله وئيلو نه بغير تيل لګول او ويښته وَچ او خواره پريښودل د سنّت خلاف دي (9) حديثِ پاک کښې دي: څوک چه د بِسمِ الله وئيلو نه بغير تيل اولګوي نو 70شيطانان د هغه سره شريک شي. (عَمَلُ اليومِ وَاللَّيلةِ لِابنِ السُّنّي ص327حديث173) (10)حُجَّةُ الاسلام حضرت سَيِّدُنا امام محمّد بن محمّد بن محمّد غزالی عَلَیْہِ رَحْمَةُ اللهِ الْوَالِی نقل کوي: حضرت سَيِّدنا ابوهريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: يوځل د مؤمن د شيطان او د کافر د شيطان ملاقات اوشو، د کافر شيطان ښه څورب او تازه او په ښه لباس کښې وو، او د مؤمِن شيطان نرۍ، کمزورې، جاخ او خورو ويښتو والا او بربنډ وو. د کافر شيطان د مؤمن د شيطان نه تپوس اوکړو: آخرته دومره کمزورې ولې ئې؟ هغه جواب ورکړو:زه د يو داسې ځوان سره يم چه هغه د خوراک څښاک په وخت کښې بِسمِ الله شريف لولي نو زه وږې او تږې پاتې شم، چه کله تيل لګوي نو بِسم الله شريف اولولي نو زما ويښته جاخ او ببر پاتې شي. د کافر شيطان اووئيل: زه خو د داسې کس سره يم چه هغه په دې کارونو کښې هيڅ هم نه کوي، ځکه زه د هغه سره په خوراک څښاک، لباس (کپړې اغوستلو) او تيل لګولو کښې شريک کيږم. (اِحياءُ العُلوم ج3 ص45) (11) دَ تيل لګولو نه مخکښې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ اولولئ او د ګڅ لاس په تلي کښې لږ شان تيل واچوئ، بيا مخکښې د ښئ سترګې په وروُزه تيل اولګوئ بيا په ګڅه، د هغې نه پس د ښئ سترګې په بنړو بيا په ګڅه، اوس په سر تيل اولګوئ. او چه په ګيره تيل لګوئ

www.dawateislami.net

نو د لاندې شونډې او د زنې د مینځ د ویښتو نه شروع کوئ. (12) د شړشمو تیل لګونکې چه د سرنه ټوپۍ یاعِمامه لرې کړې نوځینې وخت ترې بدبوئي راځي، لِهٰذا چه د چا نه کیدې شي نو ښه خوشبودار تیل دِ لګوي، د خوشبودار تیل جوړولو یوه اسانه طریقه دا هم ده چه د کوپرې د تیلو په بوتل کښې د خپلې خوښې د عطرو یو څو څاڅکې واچوئ او حل ئې کړئ، خوشبودار تیل تیار دي. د سر او د ګیرې ویښته کله کله په صابون وینځئ. (13) په ښځو باندې لازِم دي چه په ګمنز کولو یا د سر په وینځلو کښې چه کوم ویښته اوځي هغه چرته پټ کړې چه په هغې باندې چرې د غیر سړي (یعنې داسې نارینه چه د چا سره د همیشه د پاره نکاح حرامه نه وي) نظر اونه لګي. (بہارِشریعت ج 3 ص449) (14) خَاتَمُ الْمُرسَلِیْن، رَحْمَۃٌ لِّلْعٰلَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هره ورځ ګمنز کولو نه منع فرمائیلې دي. (ترمِذِي ج3 ص293 حدیث1762) دا نهي (یعنې دا مَنع مکروهِ) تنزِیهي (تَن.زِي.هِي) ده او مقصد دا دې چه سړې لره په ډول سنګار کښې مشغولیدل نه دي پکار. (بہارِ شریعت ج 3ص592) امام مناوي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْقَوِی فرمائي: کوم کس ته چه د ویښتو د ډیر والي په وجه حاجت وي هغه مُطلقًا روزانه ګمنز کولې شي. (فَیضُ القدیر ج6 ص404) (15) په بارګاهِ رَضَوِیَّت (یعنې د امام احمد رضا خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن په بارګاه) کښې شوې سوال او جواب اوګورئ، **سوال:** په ګیره کښې کوم کوم وخت ګمنز کولې شي؟ **جواب:** د ګمنز کولو د پاره په شریعت کښې څه خاص وقت مقررنه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصیب کیږي. (مجمع الزوائد)

دي، د اعتدال (یعني درمیانه انداز) حکم دې، نه خو دا پکار ده چه سړي د پیریانو شکل جوړ کړې وي او نه دا پکار ده چه هر وخت دِ په ډول سِنګار کښې اخته وي. (فتاویٰ رَضَویّه ج29 ص94,92) (16) د ګمنز کولو په وخت کښې د ښي طرف نه اِبتِدا (یعني شروع) اوکړئ چنانچه اُمُّ المُؤمِنِین حضرت سَیِّدَتُنا عائشه صِدّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي: شَهَنشاهِ خَیرُالاَنَام صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هرکار د ښي طرف نه شروع کول خوښول، تر دې چه پیزار په ښپو کولو، ګمنز کولو او طهارت کولو کښې هم. (بُخاری ج1 ص81 حدیث168) شارِحِ بخاري حضرت علّامه بدرُالدّین عَیني حَنَفي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْقَوِی د دې حدیث پاک لاندې لیکي: دا دړې څیزونه د مِثال په طور بیان کړې شوي دي، ګني هر د عزّت او د بزرګئ کار د ښي طرف نه شروع کول مُستحب دي، لکه جُمات ته داخلیدل، لِباس اغوستل، مِسواک کول، رانجه لګول، نوکان پریك کول، بریت وروَل، د ترخونو ویښته لري کول، اودس، غسل کول او د بیتُ الخلا (یعني استِنجا خانې) نه باهر راوتل وغیره او په کوم کار کښې چه دا (یعني د بزرګئ) خبره نه وي، لکه د جُمات نه باهر راوتلو، بیتُ الخلا ته د ننوتلو، پوزه پاکولو، او تهبند او کپړې ویستلو وخت کښې د ګڅ طرف نه شروع کول مستحب دي. (عُمدَۃُ القاری ج2 ص476) (17) د جُمعې د مانځه د پاره تیل او خوشبو لګول مُستحب دي. (بہارِشریعت ج1 ص774) (18) د روژې په حالت کښې په ګیره او بریتو تیل لګول مکروه نه دي خو د دې د پاره تیل

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

لګول چه ګيره غټه شي حالانکه ګيره ئې يو موټې (پوره) ده نو دا د روژې نه بغير هم مکروه دي او په روژه کښې په درجه اولٰی (مکروه) (ايضًاص997) (19) د مرې په ګيره يا د سر په ويښتو کښې ګمنز کول ناجائِز او ګُناه ده. (دُرِّمُختارج1ص104) [بعض] خلق د مرې ګيره خرَوي دا هم ناجائِز اوګناه ده، ګناه په مرې نه بلکه په خرونکې او د دې د حکم ورکونکې باندې ده.

تيل کی بوندیں ٹپکتی نہیں بالوں سے رضا
صبحِ عارِض پہ لُٹاتے ہیں ستارے گیسو (حدائقِ بخشش شریف)

رضا! د زلفو نه ئې خاڅې دا د تيلو خاڅکې
لکه په مخ چه قربانيږې د اسمان ستورې

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبةالمدينه دوه کتابونه (1) د 312 صفحو کتاب"**بہارِشريعت**"حصّه 16 او (2) د **120** صفحو کتاب "**سنّتيں اور آداب**" هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامې په مدنې قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دې.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لاړ شئ رحمتونه ګټلو له قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافله کښې لاړشئ

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په مابانديِ درود پاك اوليكل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتي به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سنتّو فضيلت او د يو څو سنّتونو او آداب بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت، مصطفٰی جانِ رحمت، شمع بزمِ هدايت، نوشه بزمِ جنت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج 9 ص 343)

سينه تيری سنت کا مدينہ بنے آقا
جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډي د ځان مي کړه خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د زُلفو او د سر د ويښتو وغيره 22مدني ګلونه

(1)د خَاتَمُ الْمُرسَلِيْن، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارکي زُلفي به کله د نِصف (يعني د نيم) غوږ مُبارک پورې او (2) کله د غوږ مبارک د لو (يعني د نرمي حِصّې) پورې او (3) ځيني وخت به دومره اوږدې شوې چه خوږې به ئې مبارکو اُوږو ته لګيدې. (الشمائِلُ المُحمّديَّه للتِرمِذي ص 35,34,18) (4) مونږ ته پکار دي چه موقع په موقع دري واړه سُنَّتونه ادا کړو، يعني

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيل هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجوس (شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

کله د نيم غوږ پورې، کله د پوره غوږ پورې او کله د اُوګو پورې زُلفې پريږدو (5)د اُوګو پورې د زُلفو پريښودلو د سنّت اداکول عموماً (يعنې عام طور) په نفس باندې ګران وي خو په ژوند کښې يوځل هر يو ته دا سنّت اداکول پکاردي، البتّه داخيال ساتل ضروري دي چه ويښته د اوګو نه ښکته اُوګده نه شي، په اوبو باندې د لمديدو نه پس په صحيح طريقه سره د زلفو اوګد والې معلوميدې شې، لِهٰذا په کومو ورځو کښې چه غټ ويښته پريږدئ نو په هغه ورځو کښې ئې د لمبلو نه پس ګمنز کوئ او په غور سره ئې ګورئ چه ويښته چرې د اُوګو نه ښکته خو نه ځي(6)زما آقا اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د ښځو په شان د اُوګو نه ښکته وِيښته پريښودل د نارينه د پاره حرام دي. (تسهيلاً فتاوىٰ رضويّه ج 21ص600)

(7) صدرُالشَّريعه، بدرُالطَّريقه حضرت مولانامُفتى محمّد امجد على اعظمى عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِى فرمائي: د نارينه د پاره دا جائِز نه دي چه د ښځو په شان ويښته اوګده کړي، ځيني صوفي جوړيدونکي اوګده اوګده ويښته پريږدي چه هغه د مار په شان د هغوئ په سينه باندې اوړي را اوړي، اوځيني چونټې پريږدي يا د ښځو په شان ويښته راټول کړي او د څټ طرف ته ترې غُوټه جوړه کړي داټول ناجائِز او دَ شرع خِلاف کارونه دي. تصوُّف د ويښتو غټولو او رنګ شوو جامو اغوستلو نوم نه دې بلکه د رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پوره پيروئ کولو [يعنې د هغوئ په طريقه د عمل کولو] او دَ نفس د خواهِشاتو د ختمولو نوم دې. (بهارِشريعت ج 3 ص587)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

(8) د ښځو د پاره سر خروَل حرام دي. (خلاصه از فتاوٰی رَضَوِیَّه ج22ص664) د ښځو د پاره د سر ويښته کټ کول څنګه چه په دې زمانه کښې نصراني [يعنې عيسايئړو] ښځو کټ کول شروع کړي دي ناجائِز اوګناه ده او په دې لعنت راغلې دې،که خاوند ورته د داسې [يعنې د ويښتو کټ] کولو د پاره وئيلي وي بيا هم دا حکم دې چه ښځه به په داسې کولو کښې ګنهګاره وي ولې چه د شريعت په نافرمانۍ کولو کښې به د هيڅ چا (يعنې د مور، پلاريا د خاوند) خبره نه شي منلې کيدې. (بہارِشریعت ج 3 ص 588) د وړو ماشومانو جينکو ويښته هم د هلکانو په شان مه جوړوئ، د ماشوم والي نه هغوئ ته زنانه يعنې د اوګدو ويښتو پريښودو سوچ ورکړئ (9) څيني خلق (په ويښتو کښې) ښي يا ګڅ طرف ته لار اوباسي دا د سُنَّت خلاف دي. (10) سنَّت دادي چه که په سر باندې ويښته وي نو د سر په مينځ کښې دې لار او ويستلې شي (ایضًا) (11) نارينه ته اختيار دې که د سر ويښته خروي ياغځوي (که ويښته ئې وي نو) لار دِ پکښې اوباسي. (ردُّالمُحتار ج9 ص672) (12) د حضورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دواړه خيزونه ثابت دي. خو (سرمبارک) خروَل ترې صرف د اِحرام نه د باهرکيدو په وخت کښې ثابِت دي، په نورو وختونو کښې ترې خروَل ثابِت نه دي. (بہارِشریعت ج 3 ص586) (13) نن صبا د قينچئ يا د مشين په ذريعه ويښته په مخصوصه طريقه باندې د څه ځائ نه غټ او د څه ځائ نه واړه کټ کولې شي، داسې ويښته پريښودل سنّت نه دي.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

(14) **فرمانِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”چه د چا ویښته وي نو هغه دِ د هغې اِکرام کوي.“ (ابوداؤد ج 4 ص103 حدیث 4163) یعنې هغه دِ وینځې، تیل دِ لګوي اوګمنز کوي دِ ئې. (15) حضرتِ سیِّدنا ابراهیم خلیل الله عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د ټولو نه مخکښ بریت اوتراشل او د ټولو نه مخکښ ئې سپین ویښته اولیدو. عرض ئې اوکړو: یا ربّ! داڅه دي؟ الله عَزَّوَجَلَّ اوفرمائیل: اے ابراهیم! دا وقار (یعنې عزّت) دې. عرض ئې اوکړو: اے زماربه! زما وقار زیات کړې. (موطا ج2ص415 حدیث1756) مُفَسِّرِ شَهِیر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتی احمدیارخان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الْحَنَّان د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: د حضرت سیِّدنا ابراهیم خلیل الله عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام نه مخکښ د یو نبي هم بریت یا خو غټ شوي نه وو یا که غټ شوي وو نو هغوئ تراشلي وو خو د هغوئ په دین کښ بریت تراشل حکمِ شرعي نه وو، اوس د هغوئي په وجه دا عمل سُنَّتِ اِبراهیمي شو. (مِراۃ ج 6ص193) (16) د لاندینئ شونډې او د زنې په مینځ کښ چه کوم ویښته وي د هغې خوا وُ شا ویښته خرئیل یا ویستل بِدعت دې. (عالمګیري ج5 ص358) (17) د څټ ویښته خرَول مکروه دي. (ایضًا 357) یعنې چه سرنه خروي او صرف د څټ ویښته خروي (نو دا مکروه دي) لکه ډیر خلق چه کله ویښته جوړوي نو د څټ ویښته ورسره اوخروي. او که پوره سر اوخروئ نو بیا ورسره د څټ ویښته هم اوخروئ. (بهارِشریعت ج3 ص587) (18) د خلور قِسمه خیزونو متعلّق دا حکم دې چه دفن (یعنې خخ) دِ کړې شي،

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

ويښته، نوکان، د حيض خته (يعنې هغه کپړه په کومه چه زنانه د حيض وينه پاکوي) او وينه. (ايضًا ص588 ، عالمګيري ج 5ص358) (19) د نارينه د پاره د ګيرې يا د سر سپينو ويښتو له سُور يا زيړ رنګ ورکول مستحب دي، د دې د پاره نکريزي لګيدې شي. (20) په ګيره يا سر کښې چه نکريزي اولګوئ نو د لګيدو سره اوده کيدل نه دي پکار. د يو حکيم قول دې چه دغسې د نکريزو لګولو سره اوده کيدو کښې د سر وغيره ګرمي سترګوته راکوزيږي او دا د بينائې د پاره مُضِر يعنې نقصاني دي. د حکيم د خبري تصديق داسې اوشو چه يو پيره سګِ مدينه[1] عُفِيَ عنهُ لره يو نابينا (يعنې ړوند) کس راغلو او هغه اووئيل :چه زه پيدائِشي ړوند نه يم، افسوس ما په سر باندې توره نکريزه اولګوله او اوده شوم، چه راوِيښ شوم نو زما د سترګو نور تلې وو. (21) د نکريزې لګونکو د بريتو، دلاندينئ شونډې او دګيرې د خط د غاړې د ويښتو سپين والې په يوځو ورځو کښې راښکاره کيدل شروع شي او هغه ښه نه ښکاري لِهٰذا! که زر زر تږلې ګيرې له رنګ نه هم شئ ورکولې نو په کوشش سره څلور ورځې پس کم ازکم هغه ځائيونو باندې په کوم کوم ځائ کښې چه سپين والې ښکاري لږه لږه نکريزه لګول پکار دي. (22) په شرحُ الصُّدور کښې د حضرت سيِّدنا اَنَس رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دي: څوک چه په ګيره کښې خِضاب (د تور خضاب نه علاوه سره يا

---

[1] [اميراهلِسُنَّت د عاجِزئ په طورځان ته سګِ مدينه وائي.]

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

زيږه نکريزه) لګوي، نو د مرګ نه پس به مُنکَر نکِير د هغه نه تپوس نه کوي. مُنکر به وائي: اے نکيرا! زه د هغه نه څنګه تپوس اوکړم چه د هغه په مخ د اِسلام نور پرقيږي. (شرحُ الصُّدور ص152)

په زړګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره دمکتبةالمدينه دوه کتابونه (1) د 312 پاڼرو کتاب "**بهارِشريعت**" حصّه 16 او (2) د 120 صفحو کتاب "**سنّتيں اور آداب**"هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دي.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لاړ شئ رحمتونه ګټلو له قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافله کښې لاړشئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سنتّو فضيلت او يو څو سنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت، مصطفٰى جانِ رحمت، شمعِ بزمِ هدايت، نوشه بزمِ جنت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي:"چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي."

(ابنِ عساکر ج9ص343)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاویږي۔ (مجمع الزوائد)

سینے تیری سنت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډي د ځان مي کړه خوږه آقا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د لباس14 مدني ګلونه

مخکښې درې فرامينِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوګورئ: د پيريانو د سترګو او د خلقو د سِتر په مينځ کښې پرده داده چه کله څوک جامې اوباسي نو [مخکښې دِ] بِسۡمِ اللّٰه اولولي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسط ج2 ص59 حديث2504) مفَسِّرِشهيرحکيم الاُمَّت حضرت مفتی احمد يارخان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الْحَنّان فرمائي: څنګه چه ديوالونه او پردې د خلقو د نظر نه پناهي جوړيږي دغسې به دا د الله عَزَّوَجَلَّ ذکر د پيريانو د سترګو نه پرده جوړيږي اوشيطان به هغه (يعنې شرمګاه) نه شي ليدلې. (مِراٰۃ ج1 ص268)

۞ څوک چه کپړې واغوندي او دا اولولي: اَلْحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ کَسَانِیۡ هٰذَا وَرَزَقَنِیۡهِ مِنۡ غَیۡرِ حَوۡلٍ مِّنِّیۡ وَلَا قُوَّةٍ (ترجمه: ټول تعريفونه الله عَزَّوَجَلَّ لره دي چا چه ماته دا جامې واغوستلې او زما د طاقت او قوت نه بغير ئې ماته عطا کړې) نو د هغه مخکښې وروستو ګُناهونه به معاف شي. (شُعَبُ الايمان ج5 ص181 حديث6285) ۞ څوک چه د قدرت [يعنې د وَس] باوجود د زيب و زينت [يعنې قيمتي او ښکلې] جامې اغوستل د تواضُع (يعنې د عاجزئ) په

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

طور پريږدي، الله تعالٰی به هغه ته د کرامت حُلّه وراغوندي. (ابوداؤدج4ص326 حديث4778) ۞ د خَاتَمُ الْمُرسَلِيْن، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک لباس به اکثر د سپيني کپړې وو. (کَشْفُ الْاِلْتِبَاس فِي اِسْتِحْبَابِ اللِّبَاس لِلشَّيخ عبدُالحق الدِّهلَوِي ص36) ۞ لباس چه د حلالې ګټې وي او کوم لباس چه د حرامې ګټې نه حاصل شوې وي، په هغې کښې فرض و نفل يو مونځ هم نه قبليږي. (ايضًا ص41) **منقول** دي: چا چه په ناسته باندې عمامه اوتړله يا ئې په ولاړه باندې پاجامه يا پرتوګ واغوستلو نو الله عَزَّوَجَلَّ به هغه په داسې مرض کښې اخته کړي چه د هغې علاج نشته. (ايضًاص39) ۞ د اغوستلو په وخت کښې د ښي طرف نه شروع اوکړئ (چه دا سنّت دي) مثلاًچه کُرته (ياقميص) اغوندئ نو مخکښې په ښي لِستوڼي کښې ښې لاس داخل کړئ بيا ګڅ لاس په ګڅ لِستوڼي کښې. (ايضًا ص43) هم دغسې پرتوګ اغوستو کښې مخکښې په ښئ پينځه کښې ښئ ښپه داخله کړئ او چه کله (قميص يا پرتوګ) اوباسئ نو د دې برعکس (يعنې برخِلاف) کوئ، يعنې د ګڅ طرف نه شروع کوئ. ۞ د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي ادارې مکتبة المدينه چاپ شوي د1197 پاڼړو کتاب **بهارِشريعت** د ج3 په صفحه 409 کښې دي: سُنَّت دادې چه د لمن اوګدوالې د پنډۍ د نيمې پورې وي او د لِستوڼي اوګدوالې زيات نه زيات د ګوتو د څوکو پورې او پلن والې ئې يو لويشت وي. (رَدُّالْمُحتار ج9ص579) ۞ سُنَّت دادې چه د نارينه تهبند يا پاجامه (يعنې پرتوګ وغيره) د ګيټې نه پاس وي. (مِراٰۃ ج 6 ص94)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

۞ نارينه دِ د نارينؤ اوښځې دِ د ښځو جامې اغوندي، په وړو ماشومانو کښې هم د دې خبرې لحاظ ساتئ. ۞ د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي ادارې مکتبة المدينه چاپ شوي په 1250صفحو باندې مُشتمِل کتاب **بهارِ شريعت** د وړومبي جِلد په481 نمبر صفحه کښې دي: د نارينه د پاره د نامه د لاندې نه تر د زنګونانو د لاندې پورې ”عورت“ (يعنې پرده) ده، د دې پټول فرض دي. نوم په دې کښې شامِل نه دې او زنګونان په دې کښې شامِل دي (دُرِّمُختار، ردُّالمُحتار ج2ص93) په دې زمانه کښې ډير خلق داسې شته چه تهبند يا پرتوګ داسې اغوندي چه د سپوغزو (يعنې د نامه لاندې را وتلي ځائ) څه حصه ئې ښکاري، که په کُرته (يعنې قميص) وغيره کښې داسې پټ وي چه د پوستکي (يعنې څرمنې) رنګ پکښې نه ځليږي نو خير دې، ګني حرام دي او که په مانځه کښې د څلورمې حصې په قدر ښکاره وو نو مونځ نه کيږي (بهارِشريعت) خصوصًا د حج او د عُمرې اِحرام والؤ ته په دې کښې د سخت احتياط ضرورت دې. ۞ نن صبا ځيني خلق په ښکاره د خلقوپه مخکښې جانګې (او نيم پتلون) اغوستي ګرځي چه په هغې کښې د هغوئ زنګونان او ورنونه ښکاري دا حرام دي، د داسې خلقو ښکاره زنګونانو او ورنونو ته کتل هم حرام دي. بِالخصوص د لوبو ميدانونو د ورزش کولوځائيونو (کلبونو وغيره) کښې او د سمندر په غاړه داسې نظارې زياتې وي. لِهٰذا داسې مقاماتو ته په تګ کښې سخت احتياط ضروري دې. ۞ د **تکبُّر** (يعنې

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

د ناز) په طور چه کوم لباس وي هغه ممنوع (يعنې منع) دې. تڪبُّر شته او که نه، د دې پيژندګلو دِ داسې اوکړې چه د دې جامو اغوستلو نه مخکښې چه د ده کوم حالت وو، که د اغوستلو نه وروستو هم د ده دغه حالت وي نو معلومه شوه چه په دې جامو کښې تڪبُّر پيدا نه شو. خو که هغه حالت ئې اوس نه وي پاتې نو بيا تڪبُّر راغې. لِهٰذا! د داسې جامو نه دِ ځان بچ ساتي ځکه چه تڪبُّر ډير خراب عيب دې.

(بہارِ شریعت ج3ص409، ردُّالمُحتار ج9ص579)

## مدني حُليه

ږِيره، زلفې، په سر باندې شنه شنه عِمامه شريف (شين رنګ چه پوخ نه وي)، د تاګانو [يعنې ټوټو] والا سپينه کُرته د سنّت مطابق د پنډۍ د نيمې پورې اوګده، لِستوڼې يوه لويشت اوګده، په سينه باندې د زړه طرف ته جيب کښې ښکاره مِسواک، پاجامه يا پرتوګ د ګِيټو نه بره (دامدني حُليه يعنې د اوسيدو مدني انداز دې او) (په سرسپين څادر او په پرده کښې د پرده کولو د پاره په مدني انعاماتو د عمل په صورت کښې د نسواري رنګ څادر هم که ورسره وي نو مدينه مدينه).

**دُعائے عطّار:** ياالله عَزَّوَجَلَّ! ماته او په مدني حُليه کښې اوسيدونڪو ټولو اسلامي وروڼو ته د شين ګُنبد په سورې کښې شهادت، په جنّتُ البقيع کښې مدفن (يعنې خخيدل) او په جنّتُ الفِردوس کښې د خپل خوږ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب کړې. يا الله عَزَّوَجَلَّ د ټول اُمّت بخښنه اوفرمائې. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت راليږي۔ (ابن عدي)

اُن کا دیوانہ عمامہ اور زلف و ریش میں
لگ رہا ہے مدنی حُلیے میں وہ کتنا شاندار

د حُضور عاشِق په زُلفو، ږيره او عِمامه کښې
خومره ښکلې ښکاري د هغه دا مدني انداز

صَلُّوا عَلَى الحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په زرګاوو سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبةالمدينه دوه کتابونه(1) د 312 صفحو کتاب ”**بهارِشريعت**“ حصّه 16 او (2) د 120 صفحو کتاب ”**سنّتيں اور آداب**“هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دې.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لاړ شئ رحمتونه ګټلو له قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافله کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سنتّو فضيلت او يو څو سنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت، مُصطفٰى جانِ رحمت، شَمعِ بزمِ هِدايت، نوشه بزمِ جنت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ځوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قِيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

فرمائي: ”چا چه زما د سنّت سره محبّت اوكړو هغه زما سره محبّت اوكړو او چا چه زما سره محبّت اوكړو هغه به په جنّت كښې زما سره وي.“

(ابنِ عساکر ج 9 ص343)

سینے تیری سنت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت كښې ګاونډې د ځان مې كړه خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د عِمامه شريف25 مدني ګلونه

**شپږ فرامِينِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ۞ د عِمامې سره دوه ركعته مونځ، د عِمامې نه بغير د اويا (70) ركعتو نه افضل دې. (الفِردوس بماثور الخطاب ج2ص265حديث3233) ۞ په ټوپۍ باندې عِمامه زمونږه او د مُشرِكينو په مينځ كښې فرق دې، هر لړ چه مسلمان ئې د خپل سر نه تاوهې په هغې به د قيامت په ورځ يو نُور وركولې شي. (الجامِعُ الصَّغير لِلسُّيُوطي ص353 حديث5725) ۞ بيشكه الله عَزَّوَجَلَّ او د هغه فرِښتې درود ليږي د جمعه په ورځ عِمامه والؤ باندې. (الفِردوس بماثورالخطاب ج1 ص147 حديث529) ۞ د عِمامه سره مونځ د لس زره نيكو برابر دې. (ايضاً ج2ص406 حديث 3805 فتاویٰ رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج6 ص213) ۞ عمامې سره يوه جُمعه د بغير عمامې 70 جمعو برابره ده. (اِبنِ عساکر ج37ص355) ۞ عمامې د عرب تاجونه دي، نو عمامه اوتړئ ستاسو وقار [يعني

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

عزّت] به زياتيږي او څوک چه عمامه اوتړي د هغه دپاره په هر لړ باندې يوه نيکي ده. ۞ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي اِدارې مکتبةُ المَدينه چاپ شوي د 1197صفحو کتاب **بهارِشريعت** جلد3صفحه 660 کښې دي: عمامه په ولاړه تړئ او پاجامه (پرتوګ) په ناسته اغوندئ، که چا د دې خلاف اوکړه (يعنې عِمامه ئې په ناسته اوتړله او پاجامه (يا پرتوګ) ئې په ولاړه واغوستو نو هغه به په داسې مرض کښې اخته شي چه د هغې عِلاج نشته. ۞ د عِمامه تړلو نه مخکښې لړ صبر اوکړئ او ښه ښه نيتونه اوکړئ، ځکه که يو هم ښه نيّت نه وو نو ثواب به نه مِلاويږي لِهٰذا کم نه کم دا نيّت اوکړئ چه د الله عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره د سنّت په طور عِمامه تړم.۞ مناسب دا دي چه د عِمامه وړومبې لړ د سر ښي طرف ته تاؤ شي. (فتاوٰی رضويّه ج22ص199) ۞ د خَاتَمُ الْمُرسَلِيْن، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکې عمامې شمله به عموماً [يعنې عام طور] د مبارکې ملا طرف ته وه او کله کله به ښي طرف ته،کله به د دواړو اُوګو د مينځه دوه شملې وې. ګڅ طرف ته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دي. (اشعةُ اللّمعات ج 3 ص582) ۞ د عمامې د شملې اُوګدوالې کم نه کم څلور ګوتې او ۞ زيات نه زيات (د نيمې ملا پورې يعنې تقريبًا) يولاس. (فتاوٰی رضويّه ج22 ص182) (د مينځنئ ګوتې د سر نه د څنګلې پورې ناپ ته يو لاس وائي) ۞ عمامه مخ په قبله په ولاړه ولاړه تړئ. (کشفُ الاِلتِباس في اِستِحبابِ اللِّباس ص38) ۞ په عمامه کښې سُنَّت دا دي چه د دوه نيم

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (ابو يعلیٰ)

ګزو نه کمه نه وي، او نه د شپږ ګزو نه زياته، او دا د ګُنبد په شان (يعنې داسې چه مينځ ئې بره اوتې وي) اوتړلې شي. (فتاویٰ رضويّه ج22ص186) ۞ رومال که غټ وي او دومره لړونه تاؤ شي چه سر پټ کړي نو دا عِمامه شوه او ۞ وړوکې رومال چه د هغې نه يو دوه لړه جوړشي د دې تاوهل مکروه دي. (فتاویٰ رضويّه مُخرَّجه ج7ص299) ۞ عِمامه که بيا تازه کوي نو چه څنګه تړلې شوې ده هم هغسې دِ ئې [يو يو لړ] اوسپړي، په يو ځل دِ ئې زمکې له نه را اچوي. (عالمګيري ج5ص330) ۞ که ضرورتاً ئې لري کړي او دوباره ئې د تړلو نيَّت وي نو په يو يو لړسپړدلو [يعنې خلاصولو] به ئې يوه يوه ګناه معاف کيږي. (مُلخّص ازفتاویٰ رضويّه مُخرَّجه ج6 ص214) د عمامې شپږ طِبِّي فائِدې اوګورئ ۞ د سر تور سر اوسيدونکي په سر باندې يخني، ګرمي او نمر وغيره براهِ راست اثرکوي، د دې سره وينبته، دِماغ او مخ باندې اثر پريوځي او صِحت ته نقصان رسيدې شي. لِهٰذا د اِتِّباعِ سنّت [يعنې په سُنّت د عمل کولو] په نيَّت سره په عمامه شريف تړلو کښې د دُنيا او د آخرت خيرونه دي. ۞ د طِبِّي تحقيق مطابق د سر درد د پاره عمامه شريف په سر کول ډير فائِده مند دي ۞ د عمامه شريف سره دماغو ته طاقت رسيږي او حافِظه [يعنې ياداشت] ورسره مضبوطيږي ۞ عمامه شريف تړلو سره دائِمي نزله نه کيږي او که کيږي هم نو د دې اثرات کم وي.۞ د عمامه شريف شمله د وجود لاندِينئ حصه د فالِج نه بچ کوي، ځکه چه شمله حرام مغز [د ملا د تِير

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره درود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

مغز] د موسمي اثراتو مثلاً د يخنۍ، ګرمۍ نه بچ کوي ۞ شمله د سرسام د مرض په خطراتو کښ کمي راولي. د دِماغو د پړسوب مرض ته سرسام وائي ۞ مُحَقّق عَلَی الاطلاق، خاتِمُ المُحدِّثِين، حضرتِ علّامه شيخ عبدُالحق مُحدِّث دِهلوي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِی فرمائي: **دَسْتارِ مُبارك آنحضرت** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **دَر اَکْثَر سفيْد بُوْد وَ گاهے سِياه اَحياناً سَبز**- د نبي اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عِمامه شريف به اکثر سپينه،کله به توره اوکله به شنه وه. (کشفُ الاِلتِباس فِي اِستِحبابِ اللِّبَاس للشّيخ عبدالحق الدّهلوی ص38) اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د شين رنګ عمامه شريف هم د شين شين ګُنبد مکين رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سرِانور باندې تړلي ده، دعوتِ اِسلامي شنه شنه عِمامه خپل شِعار [يعني نښه]جوړه کړي ده، د شنې شنې عمامې به هم څه وائې، زما د مکّي مدني آقا خوږ خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په روضه انور باندې د ځليدونکي ګُنبد شريف رنګ هم شين دې! عاشِقانِ رسول ته پکاردي چه هروخت شنه شنه عِمامه په سرکوي او شين رنګ هم پوخ شين نه بلکه داسې ښکلې ښکلې او ښکاره شين وي چه د لرې لرې نه بلکه د شپې په تياره کښې هم د شين شين ګُنبد په برکت سره شين شين پړقيږي او نُور وروي.

نهيں ہے چاند سورج کی مدينے کو کوئی حاجت
وہاں دن رات اُن کا سبز گنبد جگمگاتا ہے

نشته حاجت په مدينه کښ د نمر او سپوږمۍ
هلته پړقيږي شپه او ورځ د هغوئي شين ګُنبد

فرمانِ مُصطَفٰےﷺ: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيبِ! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په زړګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبةالمَدينه دوه کتابونه (1) د 312 صفحو کتاب "**بهارِشريعت**"حصّه 16 او(2) د 120 صفحو کتاب "**سنّتيں اور آداب**"هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دې.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لاړ شئ رحمتونه ګټلو له قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافله کښې لاړشئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيبِ! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږواسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سنتّو فضيلت او يو څو سنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت، مصطفٰی جانِ رحمت، شَمعِ بزمِ هدايت، نوشه بزمِ جنت ﷺ فرمائي: "چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکرج9ص343)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

سینے تیری سنت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښ ګاونډي د ځان مي کړه خوږه آقا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د ګوتۍ په باره کښ19مدني ګلونه

۞ نارينه لره د سرو زرو ګوتۍ په ګوته کول حرام دي. د مديني سلطان، رحمتِ دوجهان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سرو زرو ګوتۍ په ګوته کولو نه منع فرمائيلي دي. (صحیح بُخاری ج 4 ص 67 حدیث 5863) ۞ نابالغه هلک ته د سرو او د سپينو زرو کالي اچول حرام دي او چا چه ور واچول هغه به ګنهګاريږي. هم دغسي د ماشومانو هلکانو په لاسو، ښپو بې ضرورته نکريزي لګول ناجائِز دي، ښځې ئې په خپلو لاسو ښپو لګولې شي خو که هلک له ئې اولګولې نو ګنهګاره به وي. (بہارِشریعت ج 3 ص 428 دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج 9 ص 598) د ورو جينکو په لاسو، ښپو نکريزو لګولو کښ باک نشته ۞ د اوسپني ګوتۍ د دوزخيانو کالي دي. (تِرمذی ج 3 ص 305 حدیث 1792) ۞ د نارينه د پاره هم هغه ګوتۍ جائِز ده کومه چه د نارينه د ګوتۍ په شان وي يعني چه صرف د يو غمي وي، خو که په هغې کښ (د يو نه زيات) هرڅو غمي وي نو که هغه د سپينو زرو هم وي، د نارينه د پاره ناجائِز ده. (رَدُّالمُحتار ج 9 ص 597) ۞ د غمي نه بغيرګوتۍ اچول ناجائِزه دي دا ګوتۍ نه بلکه

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

خلې [رِنګ] دې ۞ د حُروفِ مُقطَّعات (مُ. قَطْ. طَ. عات)[1] ګوتئ په ګوته کول جائِز دي خو د حروفِ مُقطّعات والا ګوتئ بې اودسه په ګوته کول او بې اودسه ورته لاس لګول، يا د لاس مِلاو کولو په وخت کښې ورته د بې اودسه سرې لاس لګيدل جائِز نه دي. ۞ هم دغسې د نارينه د پاره د يوې نه زياتې (جائِزې) ګوتئ اچول يا (يو يا ډير) خلي [چهلّې] په ګوته کول هم ناجائز دي ځکه چه دا (خلي) ګوتئ نه وي. زنانه خلي اچولې شي. (بہارِ شریعت ج3ص428) ۞ د سپينو زرو يوه ګوتئ د يو غمي چه په وزن کښې د خلور نيمو ماشو (يعنې خلور ګرامه او 374 ملي ګرام) نه کمه وي، اچول جائِز دي اګر که د مُهر د ضرورت نه بغير وي، (خو) د دې پريښودل (يعنې چاته چه د مهر لګولو ضرورت نه وي د هغه د پاره جائِزګوتئ هم نه په ګوته کول) افضل دي، او(څوک چه په ګوتئ باندې مهرلګوي د هغوئ د پاره) د مهر په غرض (په ګوته کول) صرف جائِز نه بلکه سُنّت دي، خو د تڪبُّر (يعنې د کبر) يا د زنانه په شان ډوَل، سِنګار يا بل څه خراب غرض ئې په نيّت کښې وي نو يوه ګوتئ لا څه په دې نيّت خو ښې جامې اغوستل هم جائز نه دي. (فتاوٰی رضویّہ ج22ص141) ۞ په اخترونو کښې ګوتئ په ګوته کول مُستحب دي. (بہارِشریعت ج 1 ص779،780) خو نارينه دِ هم هغه جائِزې ګوتئ په ګوته کوي ۞ ګوتئ

[1] يعنی حٰم، طٰهٰ، يٰس، کهٰيعص، الم وغيره

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

په ګوته کول صرف د هغو د پاره سنّت دي چا ته چه د مُهرلګولو حاجت وي، لکه بادشاه، قاضي او عُلَماء کوم چه په فتویٰ باندې د ګوتې په ذریعه مهرلګوي، د دوئ نه علاوه د نورو خلقو د پاره چا ته چه د مهر لګولو حاجت نه وي سنّت نه دي البته په ګوته کول ئې جائِز دي. (عالمگیری ج5 ص335) په دي زمانه کښې د ګوتې په ذریعه د مهر لګولو عُرف (یعنې رواج) نشته، بلکه د دې کار د پاره سټامپ [یعنې د ربړوغیره مهر] جوړیږي، لِهٰذا چه کوم قاضي صاحبانو وغیره ته (په ګوتې) د مهرلګولو ضرورت نه وي د هغوئ د پاره هم ګوتې په ګوته کول سنّت پاتي نه شو.۞ نارینه ته پکار دي چه د ګوتې غمې د لاس د تلي طرف ته او زنانه دي غمې دلاس شا (یعنې د لاس د شا) طرف ته ساتي. (الھِدایة ج4 ص367) ۞ د سپینو زرو خلې [رِنګ] خاص د زنانه لباس(یعنې کالې) دې دَ نارینه د پاره [په ګوته کول] مکروه (تحریمي، ناجائِز اوګناه ده). (فتاویٰ رضویّه ج22ص130) ۞ زنانه د سرو او د سپینو زرو که څومره غواړي کالي اچولې شي، په دي کښې د وزن او د غمو د شمیر هیڅ قید نشته. ۞ د اوسپنې ګوتې ته که د چاندئ خول (یعنې قوله)ور واچوي چه اوسپنه پکښې بالکل نه ښکاري، داسې ګوتې (دنارینه او د زنانه د یو د پاره هم) په ګوته کول منع نه دي۔ (عالمگیري ج5 ص335) ۞ په دواړو لاسونو کښې په هر یو لاس ګوتې په ګوته کولې شئ او په کچئ ګوته یعنې د ټولو نه وړوکي ګوته کښې دِ په ګوته کړې شي. (ردُ المُحتارج 9 ص596) ۞ د

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مجمع الزوائد)

مَنَبتيِ يا دم کړې شوي د اوسپنې کړا هم د نارينه د پاره اچول ناجائِز دي هم دغسې ۞ د مدينةُ المُنوّره زَادَهَا اللهُ شَرَفًا وَّتَعظِيمًا يا د اجميرشريف د چاندئ يا د هر قسم اوسپنې څلې او د استيل ګوتئ هم جائِز نه دي ۞ د بواسير يا د نورو بيمارو د پاره دم شوي د چاندئ يا د هر قِسم اوسپنې څلې هم د نارينه د پاره جائِز نه دي ۞ که کوم يو اسلامي ورور د اوسپنې کړا يا د اوسپنې څلې، ناجائزه ګوتئ، يا د اوسپنې زنځير **(Bracelet Chain)** اچولې وي نو اوس ئې لرې کړئ او توبه هم اوکړئ او د آئِنده د پاره د نه اچولو عهد (يعني پخه وعده) هم اوکړئ.

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبةالمدينه دوه کتابونه(1) د 312 صفحو کتاب "**بهارِشريعت**" حصّه 16 او(2) د 120 صفحو کتاب "**سنّتيں اور آداب**" هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دې.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو　　سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو　　ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لاړ شئ　　رحمتونه ګټلو له قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافله کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** دبيان په آخره کښې د سنّتوفضيلت او يوڅو سنّتونه او آداب بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت، مصطفٰى جانِ رحمت، شمعِ بزمِ هدايت، نوشه بزمِ جنت صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج 9 ص 343)

سینے تیری سنت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا
سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډي د ځان مې کړه خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مِسواک 20 مدني ګلونه

**مخکښې دوه فرامينِ مصطفٰى** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ملاحِظه کړئ: ۞ دوه رکعته د مسواک کولو سره کول د مِسواک نه بغير د 70 رکعتونو نه افضل دي. (التَّرغيب والتَّرهيب ج 1 ص 102 حديث 18) ۞ د مِسواک اِستعمال د ځان د پاره لازِم کړئ ځکه چه په دې کښې د خُلې صفائي (ده او دا د) رب تعالٰى د رضا سبب دي. (مُسند اِمام احمد بن حنبل ج 2 ص 438 حديث 5869) د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي اِداري مکتبةُ المدينه چاپ شوې **بهارِشريعت** جِلد اوّل صفحه 288 کښې صدرُالشَّريعه، بدرُالطَّريقه حضرتِ علّامه مولانا

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو هغه په خلقو كښې ډير زيات كنجوس (شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

مفتي محمّد امجد علي اعظمي عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللّٰهِ الۡقَوِی ليكي، مشائِخ كِرام فرمائي: څوک چه د مِسواک عادت لري د مرګ په وخت كښې به هغه ته كلِمه وئيل نصيب كيږي اوڅوک چه افِيم خوري هغه ته به د مرګ په وخت كښې كلِمه نه نصيب كيږي ۞ حضرت سَيِّدنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُمَا نه رِوايت دې :چه په مِسواک كښې لس صفتونه دي: خُله پاكوي، ورێ مضبوطوي، نظرتيزوي، بلغم لري كوي، د خُلې بدبوئ ختموي، د سُنّت موافِق دې، فريښتې پرې خوشحاليږي، رب پرې راضي كيږي، نيكي زياتوي اومعده صحيح كوي. (جَمعُ الجَوامِع لِلسُّيُوطي ج 5 ص 249 حديث 14867) ۞ حضرت سيِّدنا عبدُالوهّاب شعراني قُدِّسَ سِرُّهُ النُّورانِي نقل كوي: يو ځل حضرت سيِّدنا ابوبكر شِبلي بَغدادي عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللّٰهِ الهَادِی ته د اودس په وخت كښې د مِسواک ضرورت شو، خو مِسواك پيدا نه شو، لِهٰذا په يو دينار (يعني دسرو زرو په اشرفۍ) ئې مِسواک واغستلو او استعمال ئې كړو. ځيني خلقو ورته اووئيل: داخو تاسو ډيره خرچه اوكړه! مِسواک هم دومره ګران څوک اخلي؟ اوئې فرمائيل: دا دُنيا او د دې ټول څيزونه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په نيز د ماشي د وَزَر هُمره قدر هم نه لري،كه د قيامت په ورځ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ زما نه تپوس اوكړي چه تا زما د حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنّت ولې پريښودې وو؟ كوم مال او دولت چه ما تا ته دركړې وو د هغې حقيقت خو (زماپه نِزد) د ماشي د وزر برابر هم نه وو، آخِر داسې ذليل دولت دِ په دې عظيم سُنّت (مِسواک) باندې ولې خرچ نه كړو؟ نوځه جواب به وركوم؟ (مُلَخَّص)

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

ازلواقِعُ الانوار،ص38) ۞ سيِّدنا امام شافِعي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِی فرمائي: څلورڅيزونه عقل زياتوي:د فُضول [يعني بې فائِده] خبرونه پرهيز، د مِسواك استعمال، د صُلَحا (يعني د نيک خلقو) صحبت او په خپل علم باندې عمل کول. (حياةُ الحيوان ج3ص166) ۞ مِسواک د پيلو، زيتون يا د شنډئ وغيره د تريخ لرګي پکار دې. ۞ د مِسواک پيړ والې [پينړوالې] چه د کچې ګوتې يعنې د وړوکې ګوتې همره وي. ۞ مِسواک چه د يو لويشت نه زيات نه وي، ګني په هغې شيطان کښيني ۞ د دې ريشې (يعني برش) نرم پکار دي سختې ريشې د غاښونو او د ورو په مينځ کښې د ''وَت'' (GAP) پيدا کيدو باعث جوړيږي. ۞ مِسواک که تازه وي خو ډيره ښه ده، اوکه (تازه) نه وي نو لږ ساعت ئې په ګِلاس کښې (په اوبو کښې) کيږدئ چه نرم شي ۞ مناسِب دادي چه د دې برش هره ورځ پرې کوئ څکه چه د دې برش د هغې پورې د کار دې ترڅو چه په دې کښې ترِيخ والې پاتې وي ۞ د غاښونو په سرو کښې مِسواک کوئ ۞ چه کله هم مِسواک کوئ کم نه کم درې پيرې ئې کوئ ۞ هره پيره ئې وينځئ ۞ مِسواک په ښي لاس کښې داسې نيسئ چه کچئ ګوته ترې لاندې، د مينځ درې ګوتې پرې د پاسه وي او غټه ګوته ئې په سر (د برش سره) وي ۞ مخکښې د ښي طرف په پاسني غاښونو کښې، بيا د ګڅ طرف په پاسني غاښونو کښې، بيا د ښي طرف په لاندِني غاښونو کښې او بيا د ګڅ طرف په لاندِني غاښونو کښې مِسواک اوکړئ ۞ مِسواک په موټې کښې

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

د نیولو سره په مِسواک کولو کښې د بواسیر کیدو خطره ده ۞ مِسواک د اودس سُنّتِ قبلیه دي البته سنّتِ مُؤکَّده هغه وخت دي چه په خُله کښې بدبوئ وي. (ماخوذ از فتاویٰ رضویّه ج1 ص 623) ۞ مِسواک چه کله د استعمال قابِل پاتي نه شي نو غورځوئ ئي مه، ځکه چه دا د سنّت ادا کولو آله ده، چرته ئې په احتیاط سره کیږدئ یا ئې خخ کړئ، یا څه کانړي وغیره وزن ورپورې اوتړئ او په سمندر کښې ئې ډوب کړئ. (د تفصیلي معلوماتو حاصلولو د پاره د مکتبةُ المدینه مطبوعه بهارِشریعت جلداوّل ص 294نه 295 پورې اولولئ)

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبةالمدینه دوه کتابونه (1) د 312 صفحوکتاب "**بهارِشریعت**" حصّه 16 او(2) د 120صفحو کتاب "**سنّتیں اور آداب**"هدیه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربیّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دي.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لاړ شئ
رحمتونه ګټلو له قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِیبتونه قافله کښې لاړشئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

خوږو خوږواسلامي ورونړو! دبيان په آخره کښې د سنتّوفضيلت او يوڅو سنّتونه او آداب بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت، مصطفٰی جانِ رحمت، شمع بزمِ هدايت، نوشه بزمِ جنت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي."

(ابنِ عساکر ج9 ص343)

سینہ تیری سنت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډي د ځان مي کړه خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مقبرې(اِدِيرې) ته د تلو 16 مدني ګلونه

۞ د نبي کريم، رؤُوف رَّحيم عَلَيۡهِ اَفۡضَلُ الصَّلٰوةِ وَالتَّسۡلِيۡم فرمانِ عظيم دې: ما تاسو د قبرونو د زيارت نه منع کړې وئ، خو اوس تاسو د قبرونو زيارت کوئ ځکه چه دا د دُنيا نه د بې رغبتئ سبب او د آخِرت ياد ورکوي. (ابنِ ماجه ج2 ص252 حديث 1571) ۞ د مسلمانانو د قبرونو زيارت سنّت دې او د مزاراتِ اولياءِ کِرام او شُهداءِ عِظام حاضري نيك بختي اوهغوئي ته ثواب بخښل بنه کار او ثواب دې. (فَتاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج9 ص532) ۞ که څوک د (ولي الله د مزار شريف يا) د هر مسلمان د قبر زيارت ته تلل غواړي نو مُستحب دا دي

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طبراني)

چه مخکښ په خپل کور کښ (چه مکروه وقت نه وي) دوه رکعته نفل اوکړي، په هر رکعت کښ دِ د **سورةُ الفَاتِحه** نه پس يو ځل **آيةُ الكُرسِي** او درې ځله **سورةُ الاِخلاص** اولولي او د دي مونځ ثواب دِ د قبر خاوند ته ور اوبخښي، اللہ تعالٰی به د هغه وفات شوي بنده په قبر کښ نُور پيدا کوي او دې (ثواب وربخښونکي) کس ته به ډير زيات ثواب عطا کړي. (عالمگیری ج5 ص350) ۞ د مزارشريف يا د قبر زيارت ته چه ځي نو په لار کښ دِ په فُضولو خبرو کښ نه مشغوليږي. (ایضاً) ۞ قبر مه ښکلوئ او مه په قبر لاس لګوئ. (فتاویٰ رضویہ مُخرَّجہ ج9 ص522، 526) بلکه د قبر نه لږ لرې اودريږئ. ۞ قبرته سجِده تعظيمي کول حرام دي او که د عبادت نيّت وي نو کفر دې. (ماخوذاز فتاویٰ رضویّہ ج 22 ص423) ۞ په مقبره کښ دِ په هغه عامه لار ځي، کوم ځائ کښ چه په تير شوي وختونو کښ کله هم د مسلمانانو قبرونه نه وو،کومه لارچه نوې جوړه شوي وي په هغې دِ نه ځي. "رَدُّالمُحتار" کښ دي (قبرِستان کښ که قبرونه وران کړې شوي وي او په هغه ځائ) نوي لار جوړه کړې شوي وي په هغې تلل حرام دي. (ردُّالمُحتار ج1ص612) که چرې د نوې لار ګُمان هم وي بيا هم په هغې تلل ناجائِز او ګناه ده. (دُرِّمُختار ج3ص 183) ۞ د ډيرو مزاراتِ اولياء په خوا کښ ليدلې شوي دي چه د زائِرينو (يعني د زيارت کونکو) د سهولت د پاره د مسلمانانو قبرونه وران کړې شوي دي او د پاسه پرې فرش جوړ کړې شوې وي، په داسې فرش باندې ملاسته، ګرځيدل،

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

اودريدل، د تِلاوت او ذِکر و اذکار د پاره کيناستل وغيره حرام دي، (داسې زيارتونو ته) د لرې نه فاتِحه لولئ ۞ د قبر زيارت (يعنې حاضري) په مُوَاجَهَه (يعنې د مخ طرف) ته په ولاړه پکار ده او د هغه (يعنې د قبروالا) د کُوز طرف (يعنې د ښپو د طرفه) دِ ورله ورشي چه د هغه سترګو ته مخامخ وي، د سر د طرف نه دِ نه ورځي چه هغه د کتلو د پاره سر راپورته کړي [يعنې دا قبر والا ته تکليف ورکول دي]. (فتاویٰ رضویّہ مُخرَّجہ ج9 ص532) ۞ په قبرستان کښې داسې اودريږئ چه قبلې طرف ته مو شا او قبرونو طرف ته مو مخ وي، د هغې نه پس داسې اووائي: اَلسَّلَامُ عَلَيكُمْ يا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ لَنَا سَلَفٌ وَّ نَحْنُ بِالْاَثَر ترجمه:اے قبرونو والؤ! په تاسو دِ سلام وي، الله عَزَّوَجَلَّ دِ زمونږه او ستاسو بخښنه اوکړي، تاسو زمونږ نه مخکښې راغلي ئې او مونږه په تاسو پسې در روان يُو. (عالمگیری ج5 ص350)

۞ څوک چه قبرِستان ته داخل شي او دا او وائي: اَللّٰهُمَّ رَبَّ الْاَجْسَادِ الْبَالِيَةِ وَالْعِظَامِ النَّخِرَةِ الَّتِیْ خَرَجَتْ مِنَ الدُّنْيَا وَ هِیَ بِكَ مُؤْمِنَةٌ اَدْخِلْ عَلَيْهَا رَوْحًا مِّنْ عِنْدِكَ وَسَلَامًا مِّنِّی۔ ترجمه:اے الله عَزَّوَجَلَّ! (اے) دَ دوړيدونکي وجودونو او دَ وراسته شوو هډوکو ربه! څوک چه د دُنيا نه د ايمان په حالت کښې تلي دي په هغوئي خپل رحمت اوکړې او زما سلام ور اورسوي.

نو د **حضرت آدم** عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر دغه وخته پورې چه څومره مسلمانان وفات شوي وي ټول به د هغه (يعنې دُعا لوستونکو) د پاره

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښ چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

د بخښنې دُعا کوي. (مُصنّف اِبنِ اَبی شیبه ج8 ص257) ۞ د شفيع مُجرِمان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ شفاعت نِشان دي:څوک چه قبرِستان ته داخل شو، بيا هغه (سورةُ الفاتحه، سورةُ الاِخلاص او سورةُ التَکاثُر)اووئيلو بيا ئې دا دُعا اوغوښتله: ياالله عَزَّوَجَلَّ! ما چه څه قرآن اولوستو د دې ثواب د دې قبرستان مؤمنانو نارينؤ اومؤمِنانو زنانؤ ته اورسوې. نو هغه ټول مؤمنان به د قيامت په ورځ د هغه (يعنې د ثواب بخښونکي) سفارشي وي. (شرحُ الصُّدُور ص311) ۞ حديثِ پاک کښ دي: "څوک چه 11 ځله سورةُ الاِخلاص يعنې قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد (پوره سورت) اولولي او د دې ثواب مړو ته ور اوبخښي، نو د مړو د شمار هُمره به هغه ته ثواب مِلاويږي" (دُرِّمُختار ج3 ص183) ۞ په قبر د پاسه اګربتۍ مه بلوئ په دې کښ سوء ادب (يعنې بې ادبي) او بدفالي ده (او د دې نه مړي ته تکليف رسي) آو خوکه (حاضرو خلقو ته)د خوشبو (کولو) د پاره (لګول غواړئ نو) د قبر خواسره خالي ځائ وي نو هلته ئې اولګوئ ځکه چه خوشبو کول محبوب (يعنې خوښ عمل) دي. (مُلَخّص از فتاوٰی رضویّه مُخَرَّجه ج9 ص482، 525) ۞ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه يو بل ځائ فرمائی: "صحيح مسلم شريف" کښ د حضرت عَمْرُبن عاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې، هغوئې د وفات په وخت کښ خپل فرزند[ځوئ] ته اوفرمائيل:"چه کله زه وفات شم نو زماسره دِ نه ژړاکونکي ښځې ځي او نه دِ راسره اور ځي." (مسلم ص75 حديث192) ۞ په قبر ډِيوه يا موم بتۍ وغيره مه ګرځي ځکه چه دا اور دي، او په قبر باندې د اور کيښودو سره مړي

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

ته تکليف رسي، خوکه د شپې په لاره باندې تلونکو [خلقو] د پاره رڼرا کول مقصود وي، نو د قبرنه يو طرف ته په خالي زمکه باندې موم بتۍ يا ډِيوه وغيره کيښودې شي.

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره دمکتبةالمدينه دوه کتابونه (1) د 312 صفحو کتاب"**بهارِشريعت**"حصّه **16** او(2) د **120** صفحو کتاب "**سنّتيں اور آداب**"هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دې.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو　　سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو　　ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو له قافله کښې لاړ شئ　　رحمتونه ګټلو له قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافله کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** دبيان په آخره کښې د سنّتوفضيلت او يوځو سنّتونه او آداب بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت، مصطفٰی جانِ رحمت، شمع بزمِ هدايت، نوشه بزمِ جنت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي."

(ابنِ عساکر ج 9 ص 343)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله درود پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طبراني)

سینے تیری سنت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډي د ځان مې کړه خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوْبُوْا اِلَى اللّٰه اَسْتَغْفِرُ اللّٰه
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دَقيامت په ورځ پښيمانتيا

**فرمانِ مصطفٰى** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د آخرت [يعني د قيامت] په ورځ به دَ ټولو نه زيات هغه کس پښيمانه وي چا ته چه په دُنيا کښې د عِلم حاصلولو وخت مِلاؤ شوې وو او هغه علم حاصل نه کړو او هغه کس (به هم ډير پښيمانه وي) چه په خپله ئې علم حاصل کړې وو او دَ هغه [د عِلم] نه نورو خلقو په اوريدلو سره فائدې اوچتې کړې وي خو ده ترې پخپله فائده حاصله نه کړه (يعني په علم ئې عمل اونه کړو) (تاريخ دمشق لابن عساكر ج51 ص 138 دارالفكر بيروت)

## د شِکوه تعريف

د مصيبت په وخت کښې کِيلي قِصې اوبې صبري کولو ته شِکوه وائي. (حدِيقه ندِيه شرح طريقۀ محمّديه ج 2، ص98)

## د سنتو سپرلي

اَلحَمْدُ لِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ د تبلیغ قرآن و سنت عالمګیرغیرسیاسي تحریک **دعوت اسلامي** په خوشبودارمدني ماحول کښ په کثرت سره سنتونه زده کیږي او ښودلي شي، هره پنجشنبه (یعنی زیارت) د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ښار کښ کیدونکي د دعوت اسلامي په هفته واره اجتماع کښ د ټوله شپه تیرولومدني عرض دې، د عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښ سفر، او هره ورځ د "فکرِمدینه" په ذریعه د مدني انعاماتو رساله ډکولو او د خپل ځایْ ذمه دارته د جمع کولو عادت جوړکړئ. اِنْ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ د دې په برکت سره به دسنتو د پابند جوړیدو، د ګناهونو نه د نفرت کولو او د ایمان د حفاظت دپاره د سوچ او فکر ذهن جوړیږي. **هراسلامي وروړ دې خپل دا ذهن جوړکړي چه "ماته د خپل ځان او د ټولې دنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي"** اِنْ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ د خپل ځان د اصلاح د کوشش کولو د پاره په "**مدني انعاماتو**" عمل او دټولې دنیا د اصلاح د کوشش د پاره په "**مدني قافلو**" کښ سفرکول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ




فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net